دانټرنیټ دفارسی سرچینوڅخه
ژباړونکی عـزیـزاحمد خوارمل

# ۱ ـ **اوباما وطالبانوته** یې د عمومی عفوي فرمان صادرکړ!

# **۲ـامریکا و طالبانوته دیو ملیارډ او دری سوه میلیونه ډالرو د بودجی ورکول یې په نظرکې ونیول !**

رویترزرپوټ ورکړ :
۱ ـ **اوباماوطالبانوته** یې دعمومی عفوي فرمان صادرکړ!
دامریکا دجمهور ریس بارک اوباما دنوی دستورالعمل پربنسټ طالبانوته دعمومی عفوي دفرمان په صادره ولوسره ،ددی فرمان په متن کې ویل سوی دی : په هغه صورت کې که طالب ځواکونه دالقاعدی د تروریستتی ډلی څخه جلا سي ،اودافغانستان په ټولنه کښې جذب شی ،نو دژوندکولودامکاناتوڅخه به برخمن سي .
انګلیسی خبری رسنی رویترز ولیکل : دامریکا دجمهور ریس بارک اوباما دنوی دستورالعمل پربنسټ ،په هغه صورت کې که طالب ځواکونه دالقاعدی د تروریستي ډلی څخه جلا سي او دافغانستان دخلکوترڅنګ ځانته سوله ایز ګډ ژوند اختیارکړی اوټولنی ته جذب سي بیا نودژوندکولو دحقونواوامکاناتوڅخه برخمن کیدی سي .
کارل لوین دامریکا داستازودجرګی دبهرنی سیاست دکمیسون ریس په دی هلکه یې وویل : دغه دستورالعمل د هغو ځواکونودپاره چې دطالبانو دلیکوڅخه جلا سی ، وهغوی ته به دژوندکولوامکانات اودپیسو (ډالرو) دترلاسه کولوزمینه به دوي ته برابریږی .
دواشینګټن ددی نوی لړلید اوکتنی بله بیلګه دعراق په هیوادکې دی چې د عراق ددولت په وړاندی وسله وال مخالفین کرار،کرار دعراق دټولنی ولمنی ته بیرته راغلل اوراوګرځیدل .
دغه ویناوی په داهسی وخت کې ویل کیږی چې دعراق دبعث دګوند ډیر ځواکونه دعراق دعمومی عفوی په جریان کې ددی امکاناتوڅخه برخمن کیږی اودغه بعثی ځواکونه زیار باسی اوددی غوښتونکی دی ترڅو ددی هیواد وسیاسی ډګر ته بیرته دګډون دپاره را وګرځي او ودی بهیرته دی ورګډ سي .

همدا رنګه دفرانسی خبری رسنی دواشنګټن څخه دیورپوټ په خپره ولوسره ولیکل :
دامریکا جمهور ریس بارک اوباما تیره اونی دچهارشنبه په ورځ دژنرال مایک مولن دامریکا دګډوځواکونودستردرستیز سره په خپل دغه کتنه کې په افغانستان دامریکایی ځواکونودقوماندان جنرال مک کریستال دغوښتنی په هکله چې په دی هیوادکې دامریکایی ځواکونو پرزیاتوالی باندی ټینګارکوی په دی اړه یې خبراتری کړی، اودا خبراتری په داهسی حال کې ترسره سوی چې دافغانستان خلک اودپوهنتونونوزده کوونکی اومحصلین تیره اونی ځوځلی واټونواوسړکونوته را ووتل او د« مړه دی وي امریکا » دشعارونوپه

ورکولوسره دخپل هیوادافغانستان څخه دامریکایی ځواکونودوتلوغوښتونکی سول .
انتی وار ولیکل :
**۲-امریکا وطالبانوته دیو ۱ میلیارډاو۳دری سوه میلیونه ډالرودبودجي ورکول یې په نظرکې ونیول !**

دامریکایی چاروکو یوی انترنیتی سایټ ولیکل : دامریکا دولت **وطالبانوته دیو ۱میلیارډو** ډالرو۳دری سوه میلیونه ډالروبودجی ورکول یې ددوي دجګړه ایز لړلیداودریځ په بدلون ورکولوسره ،په نظرکې ونیول .
دانتی وار خبری رسنی په یورپوټ کې چې دغه رپوټ دجیسن دیتز په قلم لیکل سویدی په دی اړه لیکی : تیره اونی دامریکا دولت **(۶۸۰)** شپږسوه اتیا میلیارډه دالری پوځی بودجه چې دامریکا دکنګرس ته وړاندی کړی وو او دکنګرس لخواتصویب اوپریکړه پری ونیول سوه ، دغه پریکړه دیوی داهسی مادی درلودونکی دی چې دنورو جنګجالی دی په هکله ددی وړاندیزپه ترڅ وکولای سوای چې دیواعشاریه دری ۳،۱میلیارډه ډالرو پر مسلی باندی چندان بحث اوجنګجالی خبراتری رامنځته نه سی ،او دغه اندازه پیسی دي ودی پوځی بودجی ته ورګډ کړی . دغه لایحه دافغانستان دتولنی دبل ځل ملاتړدتثبیتیدوترسرلیک لاندی اودطالبانود ډلی دهغه طالب ځواکونودراجذبول په خاطر چې ددوي په شته والی سره د داهسی تولنوسره چې دتاوتریخوالی سره مخالف دی په نظرکې نیول سوی دی . او داپه دی مانا دی چې امریکا کولای سي ددی بودجی څخه په مستقیم ډول سره دغه مالی پانګه اوبودجه په افغانستان کې وهغومبارزوطالبانوته چې څه ناڅه ایدیالوژیکی عقاید اودطالبانی بنسټ پالنی لړلید نه لري ددوي ددغه لړلیدونواوجګړیزودریځونودبدلون ورکولوپه وړاندی ودوي ته پیسی« ډالر» ورکول کیږی .
یوامریکایی سناتورددی فوځی لایحی داړوندمادی په توجهی اوتوضیح کولوسره وویل : دغه مالی مرسته په افغانستان کې وهغوپخوانی مبارزوطالبانوته چې همدا اوسمهال دخپلی ټولنې په ملاتړ را ولاړسویدی،په همدی ډول سره توصیف کړ.
همدارنګه ترمخه تردی لیکنی دټایمزاونلاین په روان کال کې داکتوبر دمیاشتی پریوولسمه (۱۱) **نیټه باندی په یوه مقاله کې یې اشواکړ چې اوباما وطالبانوته دپیسو «ډالرو» دورکولو سیاست ترڅیرنی لاندی نیسی .**
**دټایمز اونلاین په دی مقاله کې ویوی څیرنیزی شننی ته اشاره کوی چې په دی نږدیو ورځوکې دامریکا دسنا دبهرنی کمیټی لخوا دافغانستان په هکله صورت موندلی دی .**
**ددی څیرنی اوشمیرنی پر بنسټ طالبان دپینځلسوزرو(۱۵۰۰۰) کسانوپه زوراوځواک سره خپل واک څرګنده کوي چې یوازی په سلوکښې پینځه فیصده ۵ ٪ یې ددی جملی څخه هغه کسان دی چې داعتقادی انګیزی پربنسټ دطالبانو ولیکوته ورګډ سویدي اوپه دی جګړی اومبارزی کې ګډون اوبرخه لري ،اما په سلوکې پاته نوراویا فیصده یې (۷۰ ٪) یوازی په دی موخه چې دورځی لس (۱۰) ډالره ترلاسه کړی ،ودی ډلی ته ورجذب اوګډ سویدي .**

**دسنا دبهرنی کمیټی رپوټ ددی څرګندوی دی ، که په همدی ډول سره دامریکا دولت دطالبانوودغوشمیر کسانوته که دوه چنده پیسی اوډالر ورکړی ( چې دامریکاییانودپاره وجنګیږی ) نو به دورځی (۳۰۰۰۰۰) دری سوه زره ډالره پانګه ولګول سی .**
**دا په داهسی حال کې دی چې دامریکا دولت په افغانستان کې دجګړی دپاره دورځی (۱۶۵) یوسلوپینځه شپېته میلیونه ډالره دطالبانوسره په جګړی کې مصرفوی .**
**امریکا پرافغانستان باندی داتو(۸) کالو** تیری اوفوځی ښکیلاک څخه وروسته دطالبانودمنځه وړلو اونسکوریدو په سبب اودخپلولویدیزوالوملګروپه ملاتړ سره،همدا اوس دخپلووتلوجګپوړوپوځی قوماندانو او ددفاع دوزیر په ژبه اوویناسره چې په دی اړه وایی اوپه افغانستان کې دطالب ځواکونو پرجګړیزولوړتیاوي باندی هم اقرار کوي ./

اخیځلیک : دقطره نیوز څخه

31.10.09